AMSO
Afghanistan Media Support Organisation

په افغانستان کې د رسنیو او خبریالانو د وضعیت تحلیلي راپور

د وېرې او سانسور تر سیوري لاندې

سریزه

د ۲۰۲۶ کال د جون له ۱۰مې د جولای تر ۱۰مې نېټې پورې، د هېواد له بېلابېلو حوزو څخه راټول شوي دقیق ارقام او اطلاعات ښیي چې په افغانستان کې د رسنیو کاري چاپېریال له سیستماتیکو فشارونو سره مخامخ دی. دا فشارونه له فزیکي تاوتریخوالي او سانسور څخه نیولې، اطلاعاتو ته د لاسرسي تر جدي خنډونو او ایډیوګرافیکو مداخلو پورې پراخې دي. دغه راپور دا ټول موارد د هېواد په کچه په ۴ کلیدي محورونو کې تحلیلوي.

۱. کلیدي موندنې

لومړی محور: فزیکي خوندیتوب، خپلسري نیونې او رواني ګواښونه

په دغه میاشتنۍ دوره کې د خبریالانو فزیکي خوندیتوب په ننبـــه شـــوی او حاکم ارګانونه د قانوني مراجعو پر ځای د استخباراتي او امنیتي فشارونو له لارې پر خبریالانو خپله خبره مني.

- **خپلسري نیونې او ناوړه چلن:** د راپور په دغه موده کې د طالبانو د استخباراتي ارګانونو له خوا د رسمي خبري پوښښونو وروسته د خبریالانو د نیولو او بندي کولو پېښې ثبت شوې دي. خبریالان د دندې پرمهال د عادي لفظي شخړو لکه د ټرانسپورټ لګښتونو له امله نیول کېږي، وهل ډبول کېږي او وروسته د سیمه‌ییزو منځګړو له لارې خوشې کېږي.
- **د شـکایت د حق سـلبول او ګواښـونه:** پر نیول شـویو خبریالانو د بند پرمهال سـخت فشـار راوړل کېږي او ګواښ ورته کېږي چې له زندان څخه تر وتلو وروســته چاته شــکایت ونه‌کړي چې دا کار د خبریالانو پر رواني خوندیتوب سخت ناوړه اغېز کړی دی.

دویم محور: د طالب ویاندویانو ناسم چلن او د اطلاعاتو د شریکولو اخلال

د هېواد په کچه د اطلاعاتو د شریکولو رســمي دســتګاه د خبریالانو د کار اســانولو پر ځای، د هغوی د کار پر وړاندې د خنډونو د رامنځته‌کولو پر عامل بدله شوې ده.

د رسمي کاري ساعتونو نقض او د معاشونو کسر: د طالبانو د ولایاتونو رسمي ویاندویان د رسمي وختونو په جریان کې له رسنیو سره معلومات او خبري کلېپونه نه شریکوي او دا چاره هره شپه ناوخته او د نیمې شپې په حدودو کې ترسره کوي. دا کار د خبریالانو او د هغوی د مرکزي دفترونو ترمنځ د اداري جنجالونو او په پایله کې د خبریالانو د معاشونو د کسر لامل کېږي.

- **د رسنیو د خبري ارزښت انحصار :** ځینې امنیتي او ملکي ویاندویان د دې پر ځای چې اطلاعات د قانوني مراجعو له لارې لومړی له رســمي رســنیو سره شریک کړي، په خپلو شــخصي ـ فېســبوک او خواله رســنیو پاڼو کې یې خپروي. دا کار د خبري موضــوعاتو «د لومړیتوب ارزښــت» له منځه وړي او د رســنیو د اصــلي ادرســونو پرتله د اشخاصو شخصي پاڼې مخکې کوي.
-

دریم محور: د ایدیوولوژیکي نظارت زیاتوالی او پر محتوا بندیزونه

د یادې میاشتې په جریان کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اداري مداخلو د رسنیو داخلي خپلواکي په بې ساري ډول تر اغیز لاندې راوستې ده.

- **پر راډیوګانو او غږیزو خپرونو فشـــار:** په راډیوګانو کې د نجونو د ټیلیفوني اړیکو او غږونو پر اخیســتلو ســخت اخطارونه ورکړل شــوي او د رســنیو له دفترونو څخه د امر بالمعروف له‌خوا دوامداره او اجباري تفتیش په منظم ډول جریان لري.
- **شخصي او ظاهري محدودیتونه:** پر خبریالانو د ږیرو د پرېښودلو او د ظاهري بڼې د جبري تغیر لپاره د فشارونو او نظارت لړۍ لا هم په جدي توګه روانه ده.

څلورم محور: د خوالې رسنیو (Social Media) پر مخ د خبر رسونې سانسور

طالب حاکمان هڅه کوي چې نه یوازې رسمي رسنۍ، بلکې د خبریالانو شخصي پاڼې او پوسټونه هم کنټرول او سانسور کړي.

- **د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو په خپرولو بندیز:** د هېواد په کچه خبریالانو ته خبرداری ورکړل شوی چې د حکومت پر داخلي موضوعاتو او د ولس پر ستونزو لکه د تېلو د بیو لوړېدل یا د امنیتي او بشري پېښو جزئیات پوسټونه ونه کړي. د داسې موضوعاتو د خپرولو په صورت کې د ځینو خبریالانو د نیولو او توقیف جدي ګواښونه ثبت شوي دي. امسو د امنیتي ملاحظاتو له امله د خبریالانو هویت نه افشا کوي.

۲. تکنالوژیکي خنډونه(Structural Obstacles)

د جون له ۱۰مې د جولای تر ۱۰مې د نویو مقرراتو پلي کېدل د دې لامل شوي چې د طالبانو او رسنیو ترمنځ د اړیکو پاتې شونې هڅې هم له منځه لاړې شي:

د ځیرکو ټلیفونونو (Smartphones) بندیز: د هېواد په یو شمېر سترو زونونو او ولایتي ادارو کې په دولتي چوکاټ کې د ځیرکو ټلیفونونو پر کارونې کلک بندیز لګېدلی دی. دا پرېکړه اطلاعاتو ته د لاسرسي د ســختېدو، د ویاندویانو د نه پیدا کېدو او د رسمي ویډیویي مرکو (Video Interviews) د بشپړ نشتوالي لامل شوې ده ځکه مامورین د وېرې له امله له رسنیو سره د هر ډول تصویري مرکې کولو ډډه کوي.

۳. د ننګونو د اغېزو هراړخیز تحلیل(Matrix Analysis)

پر رسنیز ډګر مستقیم اغېز	اصلي عامل (د جون ۱۰ - جولای ۱۰)	د ننګونې نوعیت
د وېرې د فضا خپرېدل او په ارادي ډول د ځان-سانسورۍ (Self-Censorship) رامنځته کېدل.	خپلسري توقیفونه، وهل ډبول او ګواښونه	**امنیتي او فزیکي**
د خبري سرچینو د اعتبار کمېدل، د خبریالانو د معاشونو کسر او اداري جنجالونه.	د ویاندویانو ناسم چلند او په خواله رسنیو کې د اطلاعاتو مخکې خپرول	**اداري او مسلکي**
د مستندې او تصویري خبررسونې په ټپه درېدل او اطلاعاتو ته د لاسرسي سخته کچه.	په دولتي ادارو کې د ځیرکو ټلیفونونو بندیز	**تکنالوژیکي**
د ښځینه مخاطبینو حذف، پر خپرونو سانسور او د کاري خوندیتوب نشتوالی.	د امر بالمعروف اداري دوامداره تفتیش او بندیزونه	**ایدیوولوژیکي**

۴. پایلې(Conclusions)

د دغې میاشتنۍ دورې د ارقامو تحلیل ښیي چې په افغانستان کې د رسنیو د کار بڼه له یو هراړخیز او ژور ناورین سره مخامخ ده. دغه ناورین په لاندې عمومي ټکو کې خلاصه کېدای شي:

د بیان د ازادۍ او مسلکي نقد بشپړ مهارول : د ټولنې د عیني واقعیتونو (اقتصادي ستونزو او بشري پېښو) پر خپرولو بندیز د رسنیو ریښتینی رول تر پوښتنې لاندې راوستی دی.

اطلاعاتو ته د لاسرسي سیستماتیک کمښت :د ویاندویانو غیرمسؤلانه چلن او تکنالوژیکي بندیزونه اطلاعاتو ته لاسرسی په بېساري ډول ستونزمن کړی دی.

د خبریالانو اقتصادي او رواني شاتګ :د امنیتي ګواښونو ترڅنګ، د ویاندویانو د ناوخته معلوماتو له امله د خبریالانو د معاشونو کسر، هغوی له جدي اقتصادي او رواني ستونزو سره مخ کړي دي.

د رسنیز سکټور د راتلونکي په اړه ژوره ناهیلي :د دغو دوامداره فشارونو او محدودیتونو پایله دا ده چې د هېواد په کچه د رسنیو بقا له جدي خطر سره مخ ده او د مسلکي کارکوونکو د تدریجي حذف پروسه روانه ده.

د افغانستان رسنیو ملاتړ سازمان (AMSO)